# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د کب ۲۱مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۱۲مه | دویم کال| ۳۴۹مه گڼه


## د ټاکنو مبهم برخلیک؛
# د ټاکنیزو کمېسیونونو غړي وايي د وروستیو پایلو اعلان وخت ته اړتیا لري



۳

د سولې په نامه جرگه او د واک د غځېدو هڅه
۲ مخ

د امریکا ـ طالبانو په پنځمه ناسته کې د بحث مهم ټکي
۲ مخ

د کال په پیل کې د تصمیم نیونې خلور اصله
۵ مخ


## څېره
۴ مخ



### توماس جفرسون

توماس جفرسون تر ولسمشرۍ مخکې مهم امریکایي ډیپلومات و. دی د امریکا په تاریخ کې دویم مرستیال ولسمشر، لومړنی د بهرنیو چارو وزیر او دریم ولسمشر دی.

## المان له افغانستان سره؛ د ۴۳۰ میلیونو ډالرو کلنۍ مرستې ژمنه کړې



المان ژمنه کړې چې په کلني ډول به له افغانستان سره د ۴۳۰ میلیونو امریکایي ډالر مرسته کوي. دا څرگندونې پرون د هېواد د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني، په کابل کې د المان د بهرنیو چارو له وزیر هایکو ماس سره یوې خبري ناستې ته کړې دي. هغه ویلي، المان د اروپايي ټولنې د یو پیاوړي غړي په توگه کولی شي د افغانستان په ثبات او بیا رغونه کې مهم رول ولوبوي.
المان له افغانستان سره په هره برخه کې د پام وړ مرسته کړې ده او دوی هیله لري چې هغوی به د افغانستان د یو متحد په توگه خپلو همکاریو ته دوام ورکړي. په ورته وخت کې د المان د بهرنیو چارو وزیر هم په افغانستان کې د بیا رغونې له چارو ملاتړ کړی او زیاته کړې یې ده، چې دوی چمتو دي په دې برخه کې له افغانستان سره هر راز مرسته وکړي.

## د افغانستان د دولتي پوهنتونو استادانو درسي اعتصاب پیل کړی دی

د افغانستان د پوهنتونو د استادانو اتحادیه وايي، دوی له حکومت او اړوندو ادارو غواړي چې د ملکي لوړو زده کړو د قانون ۳۵مه ماده تطبیق کړي.
د دوی په خبره، له میاشتو او کلونو راهیسې د کادري غړو د امتیازاتو لپاره له قانوني لارو اړوندو ادارو ته تللي، خو تل ژمنې ورسره شوې او عملي شوې نه دي. د استادانو اتحادیه وايي، سره له دې چې دا پرېکړه ورته سخته ده، خو دوی د حکومتي مسوولینو له لوري اړ شوي چې په اعتصاب لاس پورې کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د پوهنتونونو استادان له کلونو راهیسې، د خپلو قانوني امتیازاتو د اخیستو لپاره له حکومت سره پر بحثونو لگیا دي، خو ان تر ولسمشره پورې ټولو ورسره د قانون د عملي کولو ژمنه کړې، خو تر دې دمه عملي شوې نه ده.
د پوهنتونونو استادان وايي، تر هغه چې د دوی غږ وا نه ورېدل شي، دوی به په ټول افغانستان کې خپل درسي اعتصاب ته ادامه ورکوي.
د پوهنتونو د استادانو دغه کاري اعتصاب په داسې وخت کې دی، چې تازه په هېواد کې نوی تعلیمي کال پیلېدونکی دی.

## په قطر کې د سولې رواني خبرې د اندېښنې وړ دي


۵ مخ

## یگانه مرکز تداوی سرطان در کابل با امکانات لازم مجهز نشده است



مرکز تداوی سرطان، در عقرب سال ۱۳۹۵ در شفاخانهٔ جمهوریت کابل ایجاد شده؛ اما هنوزهم با امکانات لازم مجهز نشده و بیماران بستر شده در این مرکز، برای انجام معاینات به شفاخانه های دیگر مراجعه می کنند.
این در حالی است که به اساس معلومات وزارت صحت عامه، سالانه در افغانستان حدود بیست هزار تن به انواع مختلف سرطانها مصاب می‌شوند، که یکی از شایعترین آن سرطان ثدیه است.
بر پایه معلومات منبع، سالانه در افغانستان ۳۵۰۰ زن به سرطان ثدیه مبتلا می‌شوند و ۱۶۰۰ تن آنها در حالی جان می‌دهند که در صورت تشخیص در مراحل ابتدایی، بیماران سرطان ثدیه به زود ترین فرصت شفایاب می‌شوند.
این درحالی است که در ساخت شفاخانه ۳۵۰ بستر جمهوریت که در سال ۱۳۹۲ افتتاح شد، حدود ۲۵ میلیون دالر امریکایی هزینه شده است. مقام های وزارت صحت عامه در آن وقت گفته بودند که با آغاز فعالیت این شفاخانه در تعمیر جدید و عرضه خدمات معیاری از این طریق، در آینده نزدیک میزان مراجعه مریضان به خارج از کشور کاهش خواهد یافت.
اما لطیفهٔ ۳۵ ساله باشندهٔ ناحیهٔ دوم شهر میمنه مرکز ولایت فاریاب در شمال کشور که برای تداوی سرطان ثدیه، در بخش تداوی سرطان این شفاخانه مراجعه کرده است، به آژانس خبری پژواک گفته است که به دلیل نبود امکانات در شفاخانهٔ جمهوریت، تمام معاینات او در شفاخانه خصوصی فرانسوی ها در کابل انجام شده است.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019




Admission Open

Starting: 2 March 2019

Speaking Skills

How to Speak English Well

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

www.shigal.edu.af

+93 (0) 789 98 9696

Shigal English Academy

Shigal.edu@gmail.com

دریځ

## د سولې په نامه جرگه او د واک د غځېدو هڅه

د سولې په تړاو پر ولسمشر غني له فشارونو وروسته، نوموړي په دې تړاو د لویې جرگې د جوړېدو خبره وکړه. دې جرگې ته د سولې د مشورتي جرگې نوم ورکړل شو. ویل شوي وو چې دا جرگه به د سولې په تړاو نظر او حکومت ته مشوره ورکوي. دغه راز ویل شوي وو چې د جرگې د مشورې پر اساس به د سولې د خبرو لپاره کرښې او پلاوی ټاکل کېږي. ولسمشر ژر د دې جرگې د جوړېدو خبره کړې وه، یو ځل وویل شول چې دا جرگه به د کب په وروستیو کې جوړېږي، خو اوس جرگه نوره هم ځنډېدلې ده او حکومت وايي چې د غويي میاشتې په نهمه به جرگه جوړوي.

ولې جرگه جوړېږي او بیا ولې د غويي نهمې ته ځنډول کېږي؟

ولسمشر غني غوښتل د لویې جرگې په جوړولو سره خپل دریځ ته ولسي رنگ ورکړي. که څه هم له وړاندې معلومه وه، چې جرگې ته به د خلکو د استازو پر ځای تر ډېره حکومتي او حکومت پلوه استازي راځي، چې یوازې د حکومت د غوښتنې او پلان پر اساس به عمل کوي، خو بیا هم ځیني خلک هیله من وو چې په جرگه کې به ځيني کسان د رښتیني سولې په اړه نظریات ورکړي او په دې برخه کې به مرسته وکړي. ولسمشر د جرگې اعلان وکړ، خو په جوړولو کې یې چټک او عملي گامونه وانه خیستل. له ولسمشر سره وېره پیدا شوه چې په پلان کې ماتې ونه خوري او د جرگې له منځه د سولې داسې رښتینی غږ را پورته نه شي، چې د ده واک او ځواک ته خطر وي. له همدې امله یې هڅه وکړه چې جرگه وځنډوي او بیا بیا یې د ځنډ اعلان وکړ.

اوس چې خبره د غويي میاشتې نهمې ته تللې ده، ښکاري چې د ولسمشر پلان بدل شوی دی. که د سولې خبره وی، نو پکار وه چې جرگه ژر جوړه شوې وی، څو د سولې له روانې پروسې سره یې مرسته کړې وی او په دې اړه یې د افغان ولس د ارادې څرگندونه کړې وی. اوس ولسمشر غواړي د خپل واک له غځېدو سره دا چاره وتړي. د افغانستان د اساسي قانون له مخې د ولسمشر کاري موده د جوزا د میاشتې په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي او تر دې مخکې باید ټاکنې وشي. اوس چې ټاکنې نه کېږي او د ولسمشر وخت پوره کېږي، نو ولسمشر به ناقانونه وي. اوس هڅه روانه ده چې له جرگې د دې لپاره استفاده وشي چې د ولسمشر ناقانونه واکمني وغځول شي. ولسمشر غواړي چې په جرگه کې داسې څه وکړي چې د اساسي قانون خلاف، د ده واک تر ټاکنو وغځېږي. ټاکنې معلومې نه دي، نو ځکه هڅه روانه ده چې له یوه اړخه ټاکنې نورې هم وځنډول شي او له بله اړخه د ولسمشر د واک د غځېدو لپاره لارې چارې ولټول شي.

اوس خلک د سولې غوښتنه کوي او په دې چاره کې حکومت باید روښانه دریځ ولري. که حکومت جرگه جوړوي او که هر څه کوي، خو د سولې په اړه یې باید دریځ روښانه شي او دا کار باید ژر وشي. خلک به د جرگې په نوم د سولې ضد هڅو او د ولسمشر د ناقانونه واکمنۍ د غځېدو هڅو ته اجازه ور نه کړي او پر وړاندې به یې ودرېږي.

# د امریکا ـ طالبانو په پنځمه ناسته کې د بحث مهم ټکي

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ د افغان سولې په تړاو د مخامخ خبرو اترو پنځم پړاو، دوې اونۍ وړاندې (د۱۳۹۷هـ ش کال د حوت په ٦مه) د دواړو لورو ترمنځ په دوحه کې پیل شو. که څه هم د خبرو په دغه پړاو کې د حوت په ۹مه او ۱۰مه وقفه هم راغله؛ خو له دغې دوې ورځنۍ وقفې وروسته، د حوت په ۱۱مه بېرته خبرې پیل شوې او لا هم روانې دي.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو د روان پړاو په اړه که څه هم ډېر جزیات څرگند نه دي؛ خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویاند رابرټ پالادینو د روانو خبرو په اړه ویلي وو، چې په قطر کې د واشنگټن او طالبانو ترمنځ د سولې له هوکړې وروسته، له ترهگرۍ سره د مبارزې د هوکړې پر څرنگوالي، له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو، له افغان حکومت سره د طالبانو پر مخامخ خبرو او اوربند باندې خبرې روانې دي. دغه راز په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر هم رسنیو ته ویلي، چې خبرې مثبت لوري ته روانې دي.

په دوحه کې د امریکا او طالبانو پنځمې ناستې تر پخوانیو هغو ډېر وخت ونیو او داسې ښکاري، چې د دواړو لورو ترمنځ په مختلفو موضوعاتو ژور بحثونه روان دي. دا چې په روانو بحثونو کې د اختلاف مهم ټکي کوم دي او په اړه یې د دواړو لورو دریځونه څه دي؟ دلته یې په اړه بحث شوی دی.

**د بهرنیوځواکونو حضور**

طالبان له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې د خپلې وسله والې مبارزې یوازینی لامل په افغانستان د بهرنیو ځواکونوحضور گڼي او په روانو خبرو کې هم تر ټولو مهمه او د بحث محوري موضوع له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل بلل کېږي، چې په اړه یې لا هم وروستۍ پرېکړه ناڅرگنده ده او داسې ښکاري چې دواړه لوري هڅه کوي، څو پر یو بل خپل شرطونه ومني.

ټرمپ د امریکا کانگرېس ته په خپله کلنۍ وینا کې له افغانستانه د امریکایي سرتېرو پر ایستلو ټینگار وکړ؛ خو بل پلو له افغانستانه د امریکایي سرتېرو له ایستلو سره د امریکا د سنا مخالفت، یا هم د امریکایي چارواکو له لوري دا څرگندونې، چې «که له افغانستانه ځواکونه باسو، نو پر استخباراتي چارو به تمرکز زیاتوو»، له افغانستانه د امریکایي عسکرو د ایستلو په اړه د امریکایي چارواکو ضد او نقیضو څرگندونو دا موضوع پېچلې کړې ده.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د مخامخ خبرو په لړ کې طالبانو هم تل ټینگار کړی، چې غواړي له هرڅه وړاندې له امریکا سره په افغانستان کې د بهرنیو ځواکو د نظامي حضور د پای ته رسولو په اړه یوې هوکړې ته ورسېږي. په دې اړه که څه هم دقیق جزیات نه دي ورکړل شوي؛ خو د رسنیو په حواله، د قطر په روانو خبرو کې یوه مهمه موضوع له افغانستان د امریکایي عسکرو د وتلو مهالوېش دی، چې دواړه لوري نه پرې جوړېږي. داسې ویل کېږي چې امریکا د وتلو لپاره له درېو تر پنځو کلونو پورې وخت غواړي؛ خو طالبان له یوه کال څخه په کمه موده کې د بهرنیو ځواکونو وتل غواړي.

د دې ترڅنگ، دا چې امریکا نه غواړي خپل ټول ځواکونه په بشپړ ډول له افغانستانه وباسي او په دې تړاو هڅه کوي چې د استخباراتي چارو لپاره یې یوشمېر سرتېري په افغانستان کې پاتې شي، له کبله یې د بهرنیو ځواکونو د وتلو موضوع پېچلې شوې ده. طالبان بیا وایي چې بهرني ځواکونه د په بشپړ ډول ووځي او امریکایي لوری بیا هڅه کوي، چې د عراق په څېر دلته هم په یو نوم خپل یوشمېر سرتېري وساتي.

**له ترهگرۍ سره مبارزه**

د سولې له هوکړې وروسته له «ترهگرۍ» سره مبارزه او دا چې په راتلونکي کې به د افغانستان خاوره د نورو هېوادونو پر ضد نه کارول کېږي، هغه موضوع ده چې امریکا یې په روانو خبرو کې له طالبانو سره د سولې او په افغانستان کې د خپل نظامي حضور د پای ته رسولو په موخه د شرط په توگه وړاندې کوي. په دې برخه کې طالبان اړ دي، چې امریکا او نړیوالو ته داسې قانع کوونکي ضمانتونه ورکړي، چې امریکا او نړیوال بیا د همدغو ضمانتونو په نظر کې نیولو سره خپل خلک قانع کړي او د خپلو عسکرو ایستل پیل کړي؛ خو پوښتنه دا ده چې طالبان به څنگه امریکا ته له «ترهگرۍ» سره د مبارزې ضمانت ورکوي. په داسې حال کې چې داعش له تېرو څلورو کلونو راهیسې د وخت په تېرېدو سره په افغانستان کې خپل فعالیت پراخوي او په سیمه کې مختلفې وسله والې ډلې فعالې دي. له بل پلوه، د دواړو لورو ترمنځ د «ترهگرۍ» د تعریف په اړه شته اختلاف دا خبرې لا پېچلې کړې دي.

**اوربند**

د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو په روان بهیر کې د بحث بله مهمه موضوع د اوربند ده. که څه هم طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره دا رد کړې، چې گواکې د قطر په روانو خبرو کې د اوربند او له افغان حکومت سره د خبرو په اړه یې له امریکایي لوري سره بحثونه کړي؛ خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې له طالبانو سره په روانو خبرو کې اوربند او له افغان حکومت سره خبرې هم د بحث موضوعات دي.

انگېرنې دا دي چې طالبان نه غواړي له امریکا سره د بهرنیو ځواکونو د حضور په اړه تر یوه نهایي توافق وړاندې اوربند وکړي. که طالبانو تېر کال د کوچني اختر په ورځو کې درې ورځې اوربند وکړ؛ خو په دغه اوربند کې ښارونو ته د دوی د جنگیالیو راتگ او له خلکو او دولتي چارواکو او نظامیانو سره د دوی وخت تېرول، د دې لامل شول چې په طالب جنگیالیو کې د جگړې روحیه را کمه شي.

پر وتلو سربېره، که چېرې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې له هوکړې وروسته د اوربند په اړه خبرې کېږي، نو دا چې اوربند به کله کېږي؟ ایا د وسلوالو بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به اوربند اعلانېږي او که د وتلو په جریان کې به اعلانېږي؟ اوربند به یوازې له بهرنیو ځواکونو سره وي او که له افغان امنیتي ځواکونو سره به هم وي؟ اوربند به د څومره وخت لپاره وي؟ دا هغه پوښتنې دي، چې د اوربند په اړه مطرح کېږي او توافق ته رسېدل یې زیات وخت او بحث ته اړتیا لري.

**بین الافغاني خبرې اترې**

له افغان حکومت سره د طالبانو خبرې اترې، هم امریکا او هم نړیوالو ځواکونو ته یو مهم اړخ دی. په اوسمهال کې افغان حکومت او طالبان د یو بل خلاف دریځونه لري. طالبان نه غواړي له افغان حکومت سره خبرې وکړي او افغان حکومت له خپل حاکمیت پرته، د سولې هر راز خبرې نه مني. په داسې یوه وضعیت کې که چېرې افغان حکومت منزوي کېږي او له طالبانو سره د افغان حکومت په نه موجودیت کې د سولې کوم توافق لاسلیک کېږي، دغه هوکړه به په لویه کچه ونه منل شي.

طالبان د اساسي قانون د تعدیل او په سولیز ډول د نظام په چوکاټ کې د اصلاحاتو خبرې کوي؛ خو بل پلو ته افغان حکومت نه غواړي چې د طالبانو په راتگ سره دې د افغانستان نظام طالب محوره وي. دا هغه لانجې دي چې د حللارې موندل به یې زیات بحثونه او وخت وغواړي؛ خو د دې بُن‌بست لپاره غوره دا ده چې د سولې یو ټول شموله او ملي بورډ جوړ شي او یوازې له حکومت پرته له طالبانو سره د سولې خبرې وکړي.

له بلې خوا د افغانستان جگړه یوازې دوه اړخه (امریکا او طالبان) نه لري، بلکې یو درېیم او مهم اړخ یې د افغانستان ملت دی. که د ملت په استازیتوب یوشمېر اغېزناک شخصیتونه په دغو خبرو اترو کې گډون وکړي او طالبان ورسره په خبرو کې هغه اندېښنې رفعه کړي، چې له ډېرو خلکو سره شته دي؛ دا هغه څه دي چې یو ځای کول یې د یوه موحد افغانستان په رامنځ ته کولو کې مرسته کوي. که نه نو طالبان باید هڅه وکړي چې د افغانستان د استقلالیت داعیه د ټول ملت داعیه کړي او په دې توگه پر امریکا فشار واردول ممکن شي.

په ورته وخت کې ملت بیا داسې یوې تجربې ته، چې مخکې یې ناکامي ثابته شوې، له بیا ور ستنېدو اندېښنه لري او هغه یو طرفه او له یوې ډلې جوړ شوی نظام او حکومت دی. همدا راز ډېر خلک له هغه اقتصادي وضعیت څخه هم اندېښمن دي، چې په هغو وختونو کې پر افغانستان باندې حاکم و. دا اندېښنې هغه وخت رفعه کېدلی شي، چې ملت په ډاډ سره د دې ضمانت ترلاسه کړي، چې د طالبانو په شمول یوه ډله هم د هغه حالت د تکرار اراده نه لري او هېڅوک په زور او د ټوپک په مرسته واک ته د رسېدو او په واک کې د پاتې کېدو اراده نه لري.

**د روانو خبرو اترو راتلونکی**

په نړیواله کچه د سولې ترسره شوو تړونونو ته په کتو سره داسې ښکاري، چې د سولې خبرې اترې په ټولیز ډول ډېر وخت او زغم غواړي. د بېلگې په توگه، په کولمبیا کې د حکومت او فارک ډلې ترمنځ د خبرو اترو بهیر د ۲۰۱۲ ز کال په سپټمبر کې پیل شو؛ خو څلور کاله یې وخت ونیو او د سولې تړون د ۲۰۱٦ ز کال په اگسټ کې لاسلیک شو. دغه راز په افغانستان کې دننه د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې خبرې اترې ان په ۲۰۱۰ ز کال کې پیل شوې وې؛ خو تړون یې د ملي یووالي حکومت پر مهال په ۲۰۱۷ ز کال کې وشو، په داسې حال کې چې حزب اسلامي د طالبانو په پرتله د سولې په تړاو خورا نرم دریځ درلود.

د سولې په تړوا د امریکا او طالبانو د مخامخ خبرو اترو له پیله، یوازې څه باندې پنځه میاشتې تېرېږي، د سولې په تړاو په نړۍ کې د شوو تړونونو او په افغانستان کې له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې که روانې جگړې ته وکتل شي، نو سخته ده چې په دومره لنډه موده کې دې د یوې پېچلې جگړې د پای ته رسولو په موخه د سولې توافق وشي.

له بله اړخه په روانو خبرو کې طالبانو د انتظار سیاست خپل کړی او انگېرنې دا دي چې طالبان اوسمهال په داسې یوه حالت کې دي، چې د ځان لپاره په انتظار کې تاوان نهویني، بلکې په بې صبرۍ کې تاوان ویني. طالبان پوهېږي چې امریکا له افغانستانه د وتلو نیت لري او همداسې که ټرمپ هم د خپل هېواد له ځواکونو وړاندې د خپلې بریا په خاطر د افغانستان په اړه خپل تصمیم ونیسي؛ په دې توگه نو طالبان ډاډه دي چې امریکا د وتلو تصمیم نیسي، ځکه خو د خبرو اترو په ځنډولو کې ډېره گټه د ځان ویني.

د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو په ځنډ کې یو بل لامل دا هم کېدای شي، چې دواړه لوري د خپل ځان لپاره د ډېرو گټو خوندي کولو په پار بحثونه کوي. له دې ټولو سره سره بیا هم بحثونه دومره پېچلي دي، چې ډېر وخت ته اړتیا لري او دا به ناسمه وي چې ووایو د افغان سولې په اړه به دواړه لوري د ټولو موضوعاتو په اړه په لنډه موده کې یوه توافق ته ورسېږي.

## اکبر اغا: ښايي د سولې روانې خبرې شپږم پړاو ته وغځېږي

د خلاصون لارې شورا مشر وايي، ممکن په قطر کې د امریکایانو او طالب استازو ترمنځ خبرې شپږم پړاو ته وغځېږي.

د دې شورا مشر او پخواني طالب چارواکي سید اکبر اغا ازادي راډیو ته ویلي، چې د قطر د مذاکراتو غځېدل د دغو خبرو د پېچلتیا په معنی دي.

نوموړي ویلي: «فکر کوم ځکه هیله ښونکي دي چې دغو ناستو دوام وموند، که مذاکرات گټور نه وی، دوام یې نه کاوه. هغه څه چې موږ یې له هغه ځایه اورو، دا دي چې دواړه لوري هوکړې ته نږدې شوي، خو وروستۍ پایلې ته سره نه دي رسېدلي، ممکن دا خبرې شپږم پړاو ته پاتې شي.»

دا په داسې حال کې ده چې په قطر کې د امریکایي پلاوي او طالب استازو ترمنځ د خبرو د پنځم پړاو له پیله دوه اونۍ تېرېږي، خو دا چې په دغو مذاکراتو کې څه روان دي او دواړه لوري به هوکړې ته سره ورسېږي که نه، هېڅ معلومات یې په اړه نشته. خو د سیاسي چارو شنونکی او د قطر د خبرو څارونکی وحید مژده د خپلو شته معلوماتو پر بنسټ وايي، چې دا ناسته به په یوې هوکړې سره پای ته ورسېږي.

مژده زیاته کړې: «په افغانستان کې له ۴۰ کلونو راپدېخوا جگړه روانه ده، د دې لپاره چې دا هېواد یو ځل بیا له سولې وروسته د جگړې په لور ولاړ نشي، اړتیا ده چې باید له جزیاتو سره خبرې وشي او زه پر دې باوري یم چې دا مذاکرات به یوې بریالۍ پایلې ته ورسېږي، خو وخت ته اړتیا شته».

سره له دې چې ویل کېږي، د قطر په ناسته کې یوازې پر دوو موضوعاتو؛ له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او د نورو هېوادونو پر وړاندې د افغانستان له خاورې د گواښ نه پېښېدو په اړه خبرې شوې، خو د ولسي جرگې ځیني غړي د دې ناستې اورېدو ته په پام سره وايي، چې پر نورو موضوعاتو به هم بحث شوی وي.

د دې جرگې غړي خالد پشتون په دې اړه ویلي: «ظاهراً د مذاکراتو غځېدل په دې معنی دي چې دوی په خپلو خبرو کې پرمختگ کړی. دوی ټینگار کوي چې په دوو مسئلو خبرې کېږي، خو له ناستې بهر خلک له دې خبرې سره موافق نه دي،



هېڅ شوني نه ده چې په ۱۳ ورځو کې دې یوازې په همدې دوو موضوعاتو خبرې شوې وي.»

## د ټاکنو مبهم برخلیک؛

# د ټاکنیزو کمېسیونونو غړي وايي د وروستیو پايلو اعلان وخت ته اړتیا لري



د تېرو پارلماني ټاکنو پایلې لا هم له مبهم برخلیک سره مخ دي. په هېواد کې نږدې پنځه میاشتې وړاندې پارلماني ټاکنې شوې دي، خو لا هم د دغو ټاکنو پایلې نه دي اعلان شوې او د ولسي جرگې راتلونکي له ډېرو پوښتنو سره مخ ده. د ولسي جرگې د ټاکنو ځینې نوماندان هم وایي، په داسې حال کې چې د پارلماني ټاکنو له ترسره کېدو نږدې پنځه میاشتې تېرېږي، خو ټاکنیز کمېسیونونه تر اوسه نه دي توانېدلي، چې د ټولو ولایتونو نهایي پایلې اعلان او د نوي پارلمان پرانیستې ته زمینه برابره کړي. بلخوا د انتخاباتي کمېسیونونو نوي کمېشنران او د دارالانشا ریاست مسوولان وایي، له کابل پرته د پاتې ۱۴ ولایتونو په تړاو به شویو شکایتونو ته تر لسو او پنځلسو ورځو پورې کتنه وشي او تر هغه وروسته به یې نهایي نتایج اعلان شي. د دوی په خبره، د کابل پایلې ځکه په یاده موده کې نه شي اعلانولی، چې د شکایتونو ارزونه یې ډېر وخت غواړي.

د ټاکنیزو شکایتونو د دارالانشا رییس چمن شا اعتمادي وایي، دوی د ولایتونو ټولې دوسیې او مسایل په لسو پنځلسو ورځو کې حل فصل کولی شي. نوموړی وایي: ((له کابل پرته ښایي د نورو ولایتونو د ټاکنیزو شکایتونو مسئله تر لسو یا پنځلسو ورځو حل فصل شي، خو د کابل بیا ډېر وخت غواړي. د کابل ټاکنې تر ټولو جنجالي وې. موږ ډېر وخت ته اړتیا لرو)).

له دې سره د ټاکنو خپلواک کمېسیون مسوولان د پاتې ولایتونو د نهایي پایلو د نه اعلانېدو علت بیا د رهبرۍ تغیر بولي او وایي چې لا هم د کمېسیون نوې رهبري پر اداري کارونو بوخت ده. د دوی په خبره، تر هغه چې د دوی اداري مسایل یوې خوا ته کېږي او د ټاکنو پر وروستیو پایلو او ټاکنیزو شکایتونو بحث کوي، وخت ته اړتیا لري.

د ټاکنو کمېسیون د دارالانشا رییس حبیب الرحمن ننگ وایي: ((تر دې دمه د ټاکنیزو شکایتونو او ټاکنو کمېسیون رهبري خپل اداري کارونه نه دي بشپړ کړي. دومره وخت نه کېږي، دوی به ډېر ژر د ټاکنو پر پایلو او نهایي لېست باندې کار پیل کړي)).

خو شنونکي د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون دغه اقدام د بل ځل لپاره د انتخاباتي قانون نقض بولي او وایي، د ټولو ولایتونو پایلې دې په یوه وخت اعلان شي. د شنونکو په باور، د پایلو په اعلان کې ځنډ قانوني ستونزې جوړوي او په حکومت کې خلا رامنځ ته کوي. شنونکي وایي، اوس باید نوی پارلمان افتتاح شوی وای، خو د نوي پارلمان برخلیک لا هم مبهم دی.

د محمد رحیم رحیمي په خبره، د ټاکنو د وروستیو پایلو په اعلان کې ځنډ قانوني ستونزې پېښولی شي. نوموړی وایي: ((دلته د راتلونکي کال د بودیجې خبره ده، د خلکو د حقوقو خبره ده او د قانون د مراعات کولو خبره ده. ټاکنیز کمېسیونونه باید دې مسایلو ته متوجه وي او پایلې دې پر خپل وخت اعلان کړي)).

د سیاسي مسایلو شنونکی محمد رحیم رحیمي همدا راز د کابل د ټاکنو د پایلو په اعلان کې ځنډ راوستل هم د پوښتنې وړ بولي. د ده په خبره، د کابل پایلې دې هم له نورو ولایتونو سره په یوه وخت اعلان شي او دلته دې بیا ځلې فساد ته زمینه نه برابرېږي.

ټاکنیز کمېسیونونه داسې مهال دغه خبره کوي، چې څو ورځې وړاندې د اوسني پارلمان برحاله غړو د ټاکنو د بیا ځلې ترسره کېدو غوښتنه وکړه. د دوی په خبره، د ولسمشر د پرېکړې له مخې د ټاکنیزو کمېسیونونو پخواني چارواکي د فساد او له صلاحیتونو د ناسمې استفادې په تور له دندو گوښه کړل شوي دي، نو له همدې امله دغه ټاکنې د نه منلو دي او باید له سره وشي.

# د ولسمشر غني د فرمان له مخې د سولې مشورتي جرگه د ثور تر نهمې ځنډېدلې ده



ولسمشر غني په یوه فرمان کې ویلي، چې د سولې په اړه مشورتي لویه جرگه به د راتلونکي ۱۳۹۸ لمریز کال د ثور میاشتې پر نهمه جوړه شي.

د ولسمشر غني په دغه فرمان کې راغلي: «د ټولنې د ټولو قشرونو د استازو سلا مشورو، نظریاتو او ارزونو ته چې د حللارې د موندلو او د سولې بهیر د گړندي کېدو لپاره وړاندې کېږي، د غوږ اېښودلو او اغېزمنې گټې اخیستنې لپاره لویه جرگه جوړېږي».

په فرمان کې راغلي چې د سولې په اړه مشورتي لویه جرگه به یو لوی ملي فرصت وي، څو د افغانستان د ټولو خلکو استازي له طالبانو سره د خبرو اترو د چوکاټ او پولو ترځنگ او دا چې څنگه سولې ته رسېدلی شو، خپلې پوښتنې وړاندې کړي.

په دغه فرمان کې د سولې د مشورتي لویې جرگې مشري د سولې د عالي شورا د دارالانشا رییس محمدعمر داوودزي ته سپارل شوې ده.

د سولې په اړه د مشورتي لویې جرگې په اړه د غني په فرمان کې ویل شوي، چې افغان حکومت به د لویې جرگې د پرېکړې په رڼا کې د سولې کړنلاره ترتیب او په عملي کولو کې به یې هڅه وکړي.

د دغه فرمان پر اساس د مالیې وزارت مکلف دی، چې د جوړېدونکې مشورتي لویې جرگې لگښت ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د سولې عالي شورا ویلي وو، چې ټاکل شوې د سولې په اړه مشورتي لویه جرگه د روانې کب میاشتې پر ۲٦مه جوړه شي، خو بیا وروسته د نامعقولو دلیلونو له مخې وځنډېده.

د سولې عالي شورا دغه راز تر دې مخکې ویلي وو، چې په دغه جرگه کې به څه باندې دوه زره کسان گډون وکړي، چې ۳۰ سلنه به یې مېرمنې وي.

# ارگ: ملا عمر په پاکستان کې ژوند کاوه او هلته مړ شوی دی



افغان حکومت هغه ادعا رد کړې چې پکې ویل شوي وو، د طالبانو د تحریک بنسټګر ملا محمدعمر د طالبانو د رژیم تر ړنگېدو وروسته، په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د یوې پوځي اډې په څو کیلومترۍ کې اوسېدو.

دا په داسې حال کې ده چې تازه د یوې هالنډۍ ورځپاڼې لیکوالې «بیټا ډام» په خپل کتاب «د ملا عمر پټ ژوند» کې ویلي، چې ملا عمر په زابل کې د امریکایي ځواکونو د یوې پوځي اډې په پنځه کیلومترۍ کې اوسېدو او هېڅکله پاکستان کې نه و پټ شوی.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند هارون چخانسوري پر خپل ټوېټر لیکلي، چې دا له حقیقته لرې ادعا ده او دا طالبانو او د هغوی بهرنیو ملاتړو ته د هویت ورکولو هڅه ده.

هغه دغه راز ویلي: «موږ دا له حقیقته لرې ادعا په کلکه ردوو او دا گڼو چې دا طالبانو او د هغوی بهرنیو ملاتړو ته د هویت ورکولو یوه هڅه ده. موږ کافي شواهد لرو چې دا ښیي چې هغه په پاکستان کې ژوند کاوه او هلته مړ شوی دی.»

اغلې ډام دغه څېړنه په واشنگټن کې د «زوما» سنټر په نوم د یو څېړنیز مرکز له خوا د امریکا د ایروزینا پوهنتون په نوښت تر سره کړې ده.

نوموړې په خپل کتاب او څېړنه کې ویلي، چې د طالبانو د تحریک له ړنگېدو وروسته، ملا محمدعمر چې د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر د ۱۱مې له بریدونو وروسته، امریکا د هغه د وژلو پر سر لس میلیون ډالره جایزه اعلان کړې وه، په زابل کې د امریکایي ځواکونو یوې اډې ته نږدې، د یوه کور په پټه خونه کې اوسېده.

دا په داسې حال کې ده چې افغان حکومت تر دې مخکې تل ویلي وو، چې ملا محمدعمر د طالبانو د نظام تر ړنگېدو وروسته، په پاکستان کې پټ و او هلته وژل شوی دی.

# ایران: له عراق سره مو اړیکې «ځانگړې» دي او د لاپراختیا لپاره یې نور هم لېوال یو



د ایران ولسمشر حسن روحاني چې په رسمي سفر عراق ته رسېدلی، د تهران او بغداد ترمنځ اړیکې ستایلې دي.

د نوموړي دغه سفر په داسې حال کې دی چې پر عراق د امریکا د متحده ایالتونو له‌خوا فشار دی، څو له خپل گاونډي هېواد ایران سره خپلې اړیکې محدودې کړي.

روحاني تېره ورځ عراق ته تر روانېدو مخکې د تهران په مهراباد هوایي ډگر کې د خبرو پر مهال د ایران او عراق ترمنځ اړیکې «ځانگړې» بللې او ستایلې یې دي.

روحاني ویلي: «موږ ډېر لېوال یو چې له عراق سره خپلې اړیکې پراخې کړو، په ځانگړې ډول د ټرانسپورټ په برخه کې خپله همکاري زیاته کړو. موږ مهمې پروژې هم لرو، چې د دغه سفر په لړ کې به وربانډې بحث وکړو.»

عراق چې له واشنگټنه مالي او پوځي مرسته اخلي، هڅه کوي چې د امریکا له متحده ایالتونو او دغه راز له ایران سره چې د عراق پر شیعه وگړو د پام وړ نفوذ لري، په خپلو اړیکو کې توازن وساتي.

د ایران حکومت په یوه اعلامیه کې ویلي، چې حسن روحاني به په دغه سفر کې د عراق له لومړي وزیر عادل عبدالمهدي، ولسمشر برهم صالح او د عراق له وتلي شیعه مذهبي مشر ایت‌الله علي سیستاني سره وگوري.

که څه هم ایران په رسمي ډول په عراق کې پوځي حضور نه لري، خو په عراق کې د فعالو شیعه ملېشه ډلو ملاتړ کوي، چې اټکل کېږي د غړو او جنگیالیو شمېر یې تر یو نیم لکو اوړي.

خو په عراق کې د مېشتو امریکایي پوځیانو شمېر ۵۲۰۰ ته رسېږي، چې تر ډېره یې تمرکز پر پوځي روزنه او د ملاتړ پر ماموریت دی.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ تېر زېږدیز کال د ایران او د نړۍ د شپږو پیاوړو هېوادونو ترمنځ د ۲۰۱۵ زېږدیز کال له اټومي تړونه د وتلو او پر تهران د بندیزونو د بیا لگولو اعلان وکړ.

دغه بندیزونه د ایران د انرژۍ، بېړۍ جوړولو صنعت او مالي سکټور په نښه کوي.

که څه هم عراق له دغو بندیزونو د محدود وخت لپاره معاف شوی، چې کولای شي د ایران د برېښنا او طبیعي گازو پېرلو ته ادامه ورکړي، خو د امریکا متحده ایالتونو له بغداده غوښتي، چې د انرژۍ له اړخه پر ځان د بسیا کېدو لپاره دې له امریکایي کمپنیو سره شراکت جوړ کړي.

تر دې مخکې، د یکشنبې په ورځ د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمدجواد ظریف د عراق پلازمېنې بغداد ته رسېدلی و.

هغه له بغداده مننه کړې چې د نوموړي په خبره، د ایران پر خلکو یې لگول شوي غیر عادلانه او غیر قانوني بندیزونه نه دي تایید کړي.


ظریف ویلي، ایران او عراق دوه گاونډیان دي چې بل هېڅ هېواد د دوی په اړیکو کې مداخله نه شي کولای.

## د کتـاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډیوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### شپږم څپرکی
### ځان چې څه ګڼې، هماغه يې




بیا راسره یو فکر پیدا شو چې که د خرڅلاو مدیر ما هڅولای شي، نو زه خپله ځان ولې نشم هڅولای؟ ولې له ټلیفون کولو وړاندې خپله ځان ته په مثبت فکر زړه ورنه کړم. په هغه ورځ مې له ځان سره وویل چې دا کار به کوم. چاته مې هېڅ ونه ویل، نندارتون ته ننوتم، یو تش موټر ته لاړم، پکې سپور شوم او څو شېبې له ځان سره وغږېدم، ځان سره مې وویل: زه بریالی پلورونکی یم او غواړم چې په دې کار کې تر هر چا ښه شم. زه ښې موټرې خرڅوم، ښې سوداګانې کوم. زه چې له چاسره اړیکه کوم، هغوی دې موټرو ته اړتیا لري او زه غواړم چې دا اړتیا يې پوره کړم.

دې ځان هڅونې له هماغه لومړیو ورځو ګټه وکړه. زه دومره راحت شوم چې له بل سره په اړیکه نیولو کې به مې زړه ته هېڅ وېره نه راتله. خپله به مې ویل چې خلکو ته زنګونه ووهم. نور ځان سره خبرو لپاره نندارتون ته هم نه تلم، خو دا طریقه مې لا هم کاروله. له شمېرې وهلو وړاندې به مې له ځان سره ویل چې زه تکړه پلورونکی یم، خپلې ټاکلې موخې ته ځان رسوم او ورته رسېږم.)

ښه فکر دی کنه؟ که ځان سپک نه احساسوئ، نو هڅه وکړئ چې ځان تر نورو لوړ احساس کړئ. په قوي خبرو خپل زړه او ځان ته قوت ورکړئ او وګورئ چې څومره د برترۍ او قوت احساس پیدا کوئ.

څو ورځې مخکې مې په یوه روزنیز پروګرام کې ګډونوالو ته وویل چې لس دقیقې د (رهبر کېدو) په اړه وغږېږئ. یو ګډونوال ډېر ضعیفه و، رنګ يې الوتی او لاسونه يې لړزېدل. خبرې ترې هېرې وې، څلور پنځه دقیقې يې خوارې وکړه، خو خبرې يې و نه کړې او بېرته کېناست.

له جلسې وروسته مې ولید، ورته ومې ویل چې سبا له درس نه پنځلس دقیقې مخکې راشه. سبا په ټاکلي وخت راغی. دواړه کېناستو او د تېرې شپې په خبرو وغږېدو. ما ورته وویل: ته دا را یاد کړه چې پرون دې له وینا پنځه دقیقې مخکې په څه شي فکر کاوه؟

ویې ویل:

(ټول فکر مې دې ته و چې سخت وارخطا وم. زه پوهېدم چې هسې به خلک ځان پورې وخندوم. همدا مې ویل چې زه څوک یم چې د رهبر کېدو په اړه وغږېږم؟ ما هڅه کوله چې خپلې خبرې رایادې کړم، خو ټول فکر مې یوازې خپلې ماتې ته و.)

د هغه خبره مې پرې کړې وه، ورته ومې ویل:

(ستونزه همدا ده کنه، تا وینا ته له راپاڅېدو مخکې ځان له اروایي پلوه ضعیف کړی و او پر دې قانع شوی وې چې ماتې به خورې. دې حالت کې به خبرې خامخا درنه خرابېږي، تا ځان ته د زړه ورکولو او زړور کېدو پر ځای له ځانه زړه ویستی و او وېره دې په ځان خپره کړې وه.

ننني جلسې ته څلور دقیقې پاتې دي، ته یو کار وکړه، د جلسې تر پیل مخکې ځان ته ښه په شوق خبرې وکړه او ځان ډاډه کړه. هاخوا هغه تشې خونې ته لاړ شه او ځانته ووایه: (زه غواړم ښه ویناوال شم. زه يې پایلې ته رسېدلای یم، دا باید ټول واوري او زه يې باید ورته ووایم.)

دا جملې ځان سره ښې تکرار کړه، بیا کنفرانس خونې ته راشه او هڅه وکړه چې بیا وینا وکړې.)

کاشکې تاسې هم هلته وای او نتیجه مو لیدلې وای. هغه لنډې، خو ګټورې هڅونې هلک سره مرسته وکړه او ډېره ښه وینا يې وکړه.

پایله: ځان وهڅوئ، ځان وستایئ ... ځان مه رټئ او ځان مه سپکوئ.

تاسې چې ځان څه ګڼئ، هماغه یئ. ځان ښه وګڼئ چې ښه شئ.

یو سوداګریز اعلان جوړ کړئ او (ځان پکې پر ځان وپلورئ). یوه شېبه د امریکا په تر ټولو مشهور تولید (کوکاکولا) فکر وکړئ. داسې ورځ به نه وي چې تاسې به د کوکاکولا په اړه یو ښه خبر نه وي اورېدلای. څوک چې کوکاکولا جوړوي، تاسې ته په غوږ کې همدا وایي چې (دا ښه شی دی.) دوی د دې کار لپاره یو دلیل لري، ځکه که تاسې همداسې په خپل حال پرېږدي، نو ښایي څه وخت وروسته مو زړه ترې سوړ او تاسې يې په اړه بې تفاوته شئ، دې سره به د دوی خرڅلاو ټیټ شي.

خو کوکاکولا خپل خرڅلاو نه کموي، په دې خاطر درته په غوږ کې د کوکاکولا صفتونه تکراروي.

موږ او تاسې هره ورځ مړژواندي او نیم ځاني خلک ګورو چې ځان ته هېڅ ارزښت نه ورکوي، ځان پر ځان نه شي خرڅولای. دوی خپل تر ټولو ارښتمن تولید (ځان) ته ارزښت نه ورکوي. دوی بې تفاوته وي، ځان ورته کوچنی ښکاري، ځان هېڅ هم نه بولي او دا چې دوی داسې فکر کوي، نو ځکه همداسې دي.


دا نیم ځاني خلک باید پر ځان وپلورل شي. پر خپل ارزښت پوه شي. دوی باید دا درک کړي چې دوی ښه او مهم خلک دي. دوی باید پر ځان رښتینی او قوي باور ولري.

ټام ستېالي یو ځوان دی، هره ورځ پرمختګ کوي. د ورځې درې ځله په منظم ډول، خپل ارزښتونه ځانته تکراروي. دا کار يې (د ټام ستېالي شپږ دقیقې سوداګریز اعلان) نومولی دی. له ده سره په هر حالت کې خپل دا سوداګریز اعلان وي. ستېالي ځانته دا وینا کوي: (ټام ستېالي، له یوه مهم او ډېر مهم کس ټام ستېالي سره ګوري. ټامه ته د لوی فکر خاوند يې، نو لوی فکر کوه. د هر څه په اړه لوی فکر کوه. ته د لوړې کچې او مهم کار ښه وړتیا لرې، نو د لوړې کچې لرونکې او مهم کارونه کوه.

**دوام لري...**

# توماس جفرسون

شفیق امیرزی



توماس جفرسون د ۱۷۴۳ ز کال د اپریل په ۱۳مه د ویرجینیا ایالت په شیډوېل سیمه کې زیږېدلی دی. هغه د امریکا د بنسټګرانو له ډلې و او د امریکایي ولسمشرانو په ډله کې قوي متفکر ګڼل کېږي. توماس جفرسون له ۱۸۰۱ ز کال وروسته د دوو پرله پسې دورو لپاره د امریکا ولسمشر پاتې شوی دی. نوموړی د ۱۸۲٦ ز کال د جولای په څلورمه، د خپلواکۍ د اعلامیې له لیکلو پوره پنځوس کاله وروسته، د ویرجینیا ایالت په مانتیچلو ښار کې د ۸۳ کلونو په عمر ومړ. هغه یو روشنفکره ولسمشر و او د روشنګرۍ پلوی و.

هغه بزګر و. باوري و، چې بزګرۍ او په کلیو کې کارونو ته باید ارزښت ورکړل شي. هغه دا کار د جمهوریت لپاره یوه مفکوره یا آیډیا ګڼله. ده به ویل، تر ښارونو په کلیو کې پانګونه ښه ده. د ښارونو پانګونه يې یوازې د څو کسانو پرمختګ باله. هغه همدا راز له یوجیمز مادیسون سره یو ځای د ډیموکرات جمهوري غوښتونکي ګوند بنسټ کېښود، چې د ۲۵ کلونو لپاره يې د امریکا پر حکومت راج وچلاوه. هغه همدا راز د ویرجینیا ایالت حاکم او دویم کس دی چې په امریکا کې د ولسمشر مرستیال پاتې شوی و.

هغه له دینه د سیاست د بېلوالي پلوی و او د ادیانو او مذهبونو د خپلواکۍ قانون يې لیکلی دی. جفرسون همدا راز لرغونپوه او ښه لیکوال و. نوموړي په ۱۸۱۹ ز کال کې د ویرجینیا د پوهنتون بنسټ کېښود.

جفرسون د ویرجینیا له مشهورو خلکو سره لوی شوی دی. دی د خپلې کورنۍ له اتو اولادونو دریم اولاد دی. مور يې رندولف نومېده. پلاری يې پیتر جفرسون نومېده چې په ویرجینیا کې بزګر او د بزګرۍ څارنوال او څارونکی و. کله چې قومندان ویلیام رندولف په ۱۷۴۵ ز کال کې ومړ، نو د توماس پلار د هغه د ملکیتونو او ځمکو د ساتنې مسوولیت واخیست. ده به د تاکاهو له کرونډو ساتنه کوله او د ویلیم ټول ملکیتونه د ده په ولکه کې وو. ویلیم یو کوچنی زوی هم درلود او پیتر يې ساتنه کوله. په همدغه کال کې د توماس کورنۍ تاکاهو ته کډه وکړه. پوره ۷۷ کاله هلته و اوسېدل او وروسته له دې ځایه خپل پلرني ټوټابي البه مارله ته را وګرځېدل.

توماس په ۱۷۵۲ ز کال کې یو سیمه ییز ښوونځي ته لاړ. دغه ښوونځی د ویلیم داګلاس له لوري اداره کېده. په نهه کلنۍ کې يې د فرانسوي، لاتیني او یوناني ژبې پر زده کړه پیل وکړ. په ۱۷۵۷ ز کال چې توماس ۱۴ کلن و، پلار يې ومړ. ده ته پراخه ځمکه او لسګونه غلامان په میراث پاتې شول. له دې وروسته يې هلته کور جوړ کړ او بیا دغه ودانۍ او د ده کور په مانتیسلو مشهور شول.

په ۱۷۵۸ او ۱۷٦۰ ز کلونو کې چې د توماس پلار ومړ، د هغه وخت د مشهور وزیر جیمز مایوري (James Maury) په ښوونځي کې يې زده کړې پیل کړې. دا ښوونځی د ویرجینیا په ګوردون اسویل کې و. دی د مایوري له کورنۍ سره معرفي شو او هلته يې مهمې او پراخې کلاسیکې زده کړې وکړې.

په ۱٦ کلنۍ کې د ویلیام اند ماري په پوهنتون کې داخل شو. هلته يې د جورج وایټ تر نظر لاندې د حقوقو زده کړې ته مخه کړه. همدلته لوړو علمي افتخاراتو ته ورسېد او له دغه ځایه فارغ شو. وروسته يې د فلسفې په پوهنځي کې د زده کړو لپاره نوملیکنه وکړه. دلته يې د خپل استاد ویلیام سمال تر نظر لاندې د ریاضیاتو، میتافیزیک او فلسفې زده کړې ته مخه کړه. ویلیم سمال، توماس وهڅاوه چې د بریټانوي لیکوالانو لکه، جان لاک، فرانسس بیکن او ایزاک نیوټن لیکنې ولولي. دغه درې کسه، جان لاک، فرانسس بیکن او ایزاک نیوټن د توماس لپاره مهم کسان وو. ده به ویل، دا درې هغه تر ټولو ستر انسانان دي چې تر ننه نړۍ ته راغلي دي. توماس د لیکلو او لوستلو ترڅنګ، د ویلیون غږولو ته هم مخه کړه.

د ۱۷٦۵ ز کال په اکتوبر کې د توماس ۲۵ کلنه خور مړه شوه. د هغې مرګ توماس ته خورا سخت و، نو له همدې امله د څه مودې لپاره ګوښه ناستی شو. د توماس خور له ده سره فکري ورته والی درلود او په ډېرو مواردو کې به يې له یو بل سره مشورې کولې. توماس هر کال له ډېرو قضایي دوسیو سره سروکار درلود. په همدې لړ کې له یوې کونډې سره معرفي شو. هغه ویلز سکلتون نومېده. دوی دواړو په ۱۷۷۲ ز کال کې واده وکړ. توماس دغه مېرمن له ځان سره مانتیسلو ته بوتله. دا نو یوه لرې پرته او غرنۍ سیمه وه. په همدې غرنۍ سیمه کې یوه نیمه کاره جونګړه وه او توماس له سکلټون سره ګډ ژوند پکې پیل کړ.

په مذهبي او فکري لحاظ توماس جفرسون مسحیت ته درناوی نه درلود. ده به ویل چې په مسحیت کې ډېرې شیان غیر منطقي او غیر عقلاني دي. ده به ویل، د عیسی په اصلي پیغام کې د پولیسو او نورو کسانو له لوري لاسوهنه شوې ده. توماس جفرسون څو څو ځله د خپلې واکمنۍ پر مهال په دیني مسایلو کې له ښکېلتیا ډډه وکړه، خو پر ځای يې معنوي ارزښتونه او اخلاق مهم بلل. ده به ویل، عیسی یو لارښود و، خو پیغام کې يې ګوتې وهل شوې دي. د ده په خبره، د عیسی ستره موخه دا وه، چې د بشریت په اخلاقي روزنه کې برخه واخلي او موخه يې د انسانانو ښېګڼه وه، خو پلویانو او کشیشانو د ده په پیغام کې لاس وهلی دی او په ناسمه توګه يې نورو انسانانو ته وړاندې کوي. ده د انجیل د هغو برخو د لوستو او پر هغو د عمل سپارښتنه کوله، چې په هغه کې د انسانانو اخلاقي روزنه مهمه بلل شوې ده. ده به ویل چې دی اصلي مسیحي دی، ځکه د عیسی ع سلام رښتیني پیغام ته درناوی لري او د هغو شیانو ضد دی، چې د عیسی ملاتړو ورپسې تړلي دي.

توماس جفرسون تر ولسمشرۍ مخکې مهم امریکایي ډیپلومات و. دی د امریکا په تاریخ کې دویم مرستیال ولسمشر، لومړنی د بهرنیو چارو وزیر او دریم ولسمشر دی. توماس جفرسون د امریکا د استقلال اخیستونکو په ډله کې ځانګړی ځای لري. نوموړی ښه لیکوال و، خو هېڅ وخت ښه ویناوال نه و. له همدې امله دی د کنګرې چوپ غړی بلل کېده. له همدې امله ده دا غوره ګڼله چې خپل پیغام د خبرو پر ځای د قلم له لارې ولېږدوي. ده به د ژبې پر ځای له قلم ګټه اخیسته او خپل باورونه يې له خلکو سره شریکول. د کنګرې دغه چوپ غړي په ۳۳ کلنۍ کې د امریکا د استقلال اعلامیې خاکه ولیکله. وروسته يې هڅه دا وه، چې خپل نظریات پر حقیقت بدل کړي.

تر ولسمشرۍ مخکې مرکزي حکومت ته د جفرسون وفاداري او د مرکزي حکومت د قوت لپاره د هغه کارونه د دې سبب شول، چې د جورج واشنګټن پام يې ځان ته واړاوه او هغه يې د بهرنیو چارو وزیر وګوماره. په ۱۷۹۳ ز کال کې يې یو ځل له دې دندې استعفا ورکړه، خو بېرته په ۱۹۹٦ ز کال کې د بهرنیو چارو د وزیر په توګه وګومارل شو. هغه د سفارت دنده هم پر مخ وړې ده.

امریکایان جفرسون ته د یوه ځیرک ولسمشر په سترګه ګوري. ده د امریکا لپاره مهم قوانین تصویب کړل او په بنسټیزه توګه يې په دغه هېواد کې د انساني حقوقو د ازادۍ لپاره کار وکړ. جفرسون د مذهب ازادي، له دین د حکومت جلاوالی او دې ته ورته مهم قوانین تصویب کړي دي. هغه چې کله مړ کېده، نو وصیت يې وکړ چې د ده د مقبرې پر ډبره دا جمله ولیکي ((د مذهب د ازادۍ او همدا راز له مذهبه د حکومت د جلاوالي او د ویرجینیا پوهنتون بنسټګر)).

کله چې جفرسون واک ته ورسېد، نو جګړې ختمې شوې وې او د فرانسې بحران پای ته رسېدلی و. توماس جفرسون د سمندري ځواک او پوځ لګښتونه راکم کړل. بودیجه يې راکمه کړه. پر ځینو توکو يې مالیات بند کړل او بریالی شو چې د امریکا پورونه راکم کړي.

ده هڅه وکړه چې د سمندري غلو د ځپلو لپاره د لوړپوړو پوځي افسرانو او قوي پوځیانو یوه ډله وګوماري او دوی ته يې دنده ورکړه، چې سمندري غله له منځه یوسي. دغه غله د مدیترانې په سمندرګي کې د امریکایي بېړیو په لوټ او ځورونه لګیا وو.

هغه د امریکا د خاورې پراختیا او جغرافیایي وسعت لپاره هم کار وکړ. هغه چې څنګه فرصت پیدا کړ، نو د ناپیلیون تر مشرۍ لاندې فرانسه يې دې ته قانع کړه، چې د لوییزیانا ځمکې پر امریکا وپلوري.

د جفرسون دویمه دوره حکومت له سختیو سره مخ و. په دې موده کې نوموړي یوازې دا هڅه کوله چې امریکا په ناپیلیوني جګړو کې له ښکېلتیا وژغوري. ده غوښتل چې امریکا بې طرفه وي او په دې توګه خپلې ودې ته ادامه ورکړي. خو هم بریټانیا او هم فرانسه د امریکایي سوداګرو د بې طرفۍ مخالف وو. په دې برخه کې د جفرسون حللارو هم مثبته پایله نه لرله.

جفرسون ته په امریکا کې د خلکو ولسمشر وایي. یو لامل يې دا دی، چې ده له خلکو سره له نږدې ناسته ولاړه لرله. بل يې دا دی چې د خلکو په مستقیمه رایه واک ته رسېدلی و. ده هڅه کوله چې تر اشرافو او لویو خلکو مخکې له عامو وګړو سره ناسته ولاړه ولري. ډېرې داسې موارد يې د خپل حکومت پر مهال عملي کړل، چې په هغه کې د اشرافو زیان و، خو د امریکایي خلکو په ګټه وو. دی چې کله په سپینه ماڼۍ کې واک ته ورسېد، نو هلته يې ډېرې شاهي او مجلل دودونه له منځه یوړل. شاهانه خواړه چې د جورج واشنګټن د واکمنۍ پرمهال دود شوي وو، بیا جان ادامز دا دود پاله، خو جفرسون ختم کړ. ده به ویل، ولسمشر د خلکو یو عادي استازی دی، نو د نورو وګړو په څېر باید له تجمل او نمایش پرته عادي ژوند وکړي. له دې وروسته په سپینه ماڼۍ کې عادي خواړه پخېدل او د هر چا چې هر ځای زړه وای، ډوډۍ يې خوړله.

جان ادامز له جفرسون وغوښتل چې د استقلال اعلامیه ولیکي. ځکه ادامز ته د جفرسون د لیکلو سبک معلوم و. هغه يې ډېر خوښ و. هغه دا مهال ۳۳ کلن و. په اوولسو ورځو کې يې د متن لیکل بشپړ کړل. امریکا د هغو لومړنیو هېوادونو له ډلې وه، چې خپلواکي يې اخیسته. نو له همدې امله د ازادۍ د اعلامیې لیکل مهم وو. بیا وروسته د نږدې ۲۰۰ کلونو لپاره د ازادۍ دا اعلامیه د ډېرو ازادي غوښتونکو هېوادونو لپاره د لارې مشعل شوه.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۳۵ |
| € | ۸٤,۸۰ |
| Rp. | ٥٤۰ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۹۷,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - دوبۍ | 20:45 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د کال په پیل کې د تصمیم نیونې څلور اصله

ژباړه: امان الله«حنیفي»

موږ، تاسې ته هغه څلور قوانین ښیو چې د کال په پیل کې یې باید په تصمیم نیونه کې مراعات کړئ. دغه قوانین به له تاسې سره مرسته وکړي، څو مو موخو ته ژر او له هغې چې تاسې یې له دې مخکې اټکل کړی و، په چټکتیا سره ورسېږی.
کېدای شي تاسې موخو د رسېدو پر لار له ستونزو او مشکلاتو سره مخ شی، خو د ښې تصمیم نیونې او د دغو قوانینو په مراعات کولو سره، تاسې کولای شی له ماتې، وېرې او زړه نا زړه توب وروسته راپاڅی او بیا حرکت وکړی.

**۱-پر خپل تصمیم مو باوري اوسئ**

د نوي کال لپاره تر ټولو بریالی تصمیم، پر کلک باور پیلېږي. د بریا لپار باید پر هغه څه چې تاسې ورته رسېدل غواړی، کلک باور ولری. داسې پرېکړه وکړئ چې حتماً او له شک پرته هغه څه ته چې تاسې یې غواړی، رسېدای شی. ځینې وخت دا پرېکړه او تصمیم له هغو ملگرو او دوستانو سره هم شریک کړئ، چې باوري یاستی هغه ستاسې ملاتړ کوي. ښه ده چې د دغه تصمیم نیولو په پار له ځان سره وعده وکړی، دا وعده مو پرېکړه او تصمیم لا غښتلي کوي.
د نوي کال د موخو په اړه مو تصمیم او پرېکړې مه ځنډوئ. د خپلو هیلو او موخو په اړه فکر کولو ته وخت ځانگړی کړئ، که دغه کار ونه کړی، کېدای شي له ځینو هغو ستونزو سره مخ شی چې تاسې به یې په اړه مخکې له مخکې کوم چمتووالی نه وي نیولی.
د نوي کال په اړه باید دغه پوښتنې د خپلې توانایی او تصمیم نیونې په پار له ځانه وپوښتئ:



**دغه تصمیم او پرېکړه زما خپله ده او که د بل چا؟**

دغه تصمیم ماته کومه انگېزه راکوي؟ یا د کومې انگېزې له مخې یې کوم او که نه؟ دا پرېکړه او تصمیم مې له ژوند او نورو ارزښتونو سره کومه همغږي لري او که نه ورسره په ټکر کې دي؟

**سپارښتنه:**

نظم؛ پر خپلو پرېکړو او تصمیمونو د باوري پاتې کېدو لپاره ستاسې تر ټولو قوي ځانگړنه ده. کوښښ وکړئ چې ځان مو داسې تصور کړی، لکه هدف ته چې رسېدلي یاستی. هغه وخت به څه احساس کوی؟ څنگه به ښکاری؟ چېرته به وی؟ څه به کوی؟ نور به له تاسې سره څه ډول چلند کوي؟
د ځان په اړه د خپل تصور پر مټ کولای شی، د ځان لپاره هغه ځای پیدا کړی، کوم چې تاسې ورته رسېدل غواړی او د همدغه تصور پر مټ هغه ته د رسېدو انگېزه لا پیاوړې کولای شی.

**۲- ډېر دقیق اوسئ**

موخو ته د رسېدو کلي له تل پاتې انگېزې سره ده. که هر شومره مو موخې او هدفونه ښه او په پوره دقت سره وټاکی، بیا هم د ماتې وېره شته او موخو ته د رسېدو پر لاره وېره تر هرڅه بده ده. دا بیا ډېره عجیبه ده چې ځینې کسان له څو ځلې ماتې وروسته له خپلو پرېکړو تېرېږي او د نوي کال لپاره هېڅ پلان نه لري.
مخکې له دې چې د تېر کال پرېکړه او تصمیم بیا تکرار نه کړی، ښه په پوره دقت سره فکر وکړئ. که مو تېر کال د پرېکړو په عملي کولو نه وی توانېدلي، کومه خبره نه ده. سږ کال به د هغه د عملي کولو لپاره تر ټولو ښه تصمیم ولری.
له ځانه سره فکر وکړئ، د تېر کال په پرتله اوس کومو شیانو توپیر کړی دی؟ (پوره دقیق اوسئ، که نه د تېر کال له بدې پایلې سره به بیا مخ شی).

**لویه مړی مه کوئ**

هېڅ داسې دلیل نشته چې تاسې د دغه نوي کال لپاره له یوه- دوو زیات تصمیمونه ولری. له یوه- دوو د زیاتو تصمیمونو نیول مو انرژي تقسیموي او هر یوه ته د رسېدو چانس مو ببخي ډېر راکموي. هغه متل به مو اورېدلی وي، چې وایي: «ټولې منې په یوه لاس کې نه نیول کېږي» دا رښتیا خبره ده. په یوه وخت کې څو موخو ته نه شی رسېدای. ښه دا ده چې د یوې له لاسته راوړلو وروسته، د بلې لپاره هڅه پیل کړئ.

**۳- پرېکړه مو ولیکئ**

یو اسانه او ساده او په عین حال کې له تاسې سره موخو ته په رسېدو کې یو قوي اقدام د خپلو پرېکړو لیکل دي. زموږ په بدن کې دننه داسې یو ځواک شته چې د یو کار د سرته رسولو په وخت مو روحیه او انگېزه لا پیاوړې کوي. خپلې پرېکړې او تصمیمونه مو د کاغذ پر مخ ولیکئ او هغه په یو داسې ځای کې ځوړند کړی، چې ډېر وخت مو سترگې پرې لگېږي. لکه، یا یې د میز پر سر کېږدئ او یا یې هم د یخچال او بل داسې څه پر سر کېږدئ چې تاسې ورسره ډېر کاروبار لری.

**۴- خپل ځان ته مو ډالۍ ورکړئ**

کله مو چې یو کار سم سرته ورساوه، ځان ته جایزه ورکول تر ټولو ښه کار دی او که رښتیا ووایو، زموږ ټولو دا خوښېږي چې یو شوک دې د یو کار په بدل کې جایزه یا ډالۍ راکړي، خو کله بېروني هڅونه نه وي، مانا دا چې هر وخت داسې شوک نه پیداکېږي چې تاسې ته د ډالۍ درکړي او نه مو هر شوک له ځینو وړو، خو مهمو بریاوو خبرېږي. ښه دا ده چې دا وخت خپله ځان ته ډالۍ ورکړئ.
کله مو چې د یو کار په اړه تصمیم ونیو، د ځان په اړه د ځینو ښو نومونو یا وړو ډالیو د ورکړې وعده وکړئ. په یاد لرئ، ډالۍ اخیستل هر وخت خاص وي او اخیستل یې چندانې اسانه هم نه دي. تاسې به ځان ته د ډالۍ په ورکولو سره پر هغه کس بدل شی، چې ډېر وخت به نور بیا ډالۍ درکوي؛ ځکه ډالۍ اخیستل په وجود کې شته وړتیاوې را ژوندۍ کوي.

## اجرایه رییس: په قطر کې د سولې رواني خبرې د اندېښنې وړ دي

په داسې حال کې چې له تېرو دوو اونیو راهیسې د امریکایي پلاوي او طالب استازو ترمنځ په قطر کې د سولې خبرې اترې روانې دي، د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله ویلي، د روانو خبرو په اړه اندېښنې موجودې دي.
نوموړي چې تېره ورځ یې د وزیرانو شورا له غونډې مخکې رسنیو ته خبرې کولې ویلي، چې د دغو خبرو اترو ځینې برخې خلکو ته روښانه نه دي، خو په خبره یې هڅه کېږي چې د حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې اترې پیل شي.
نوموړي زیاته کړې: «افغانان له یوې خوا هیله من دي او له بله پلوه اندېښمن؛ ځکه د دغو خبرو ځینې برخې خلکو ته تر دې دمه واضح نه دي، نو ځکه خلک اندېښنې لري، ځینې مسایل دي که پام ورته ونه شي، نو د سولې خبرې به هم مخته لاړې نه شي او بیا به رښتینې معنی ونه لري.»



نوموړي ویلي چې هېڅکله به له طالبانو سره پر اسلامي جمهوریت معامله ونه شي او په دې برخه کې افغان حکومت او ټول سیاسیون ورته نظر لري.
نوموړی دغه څرگندونې داسې مهال کوي، چې له دې وړاندې د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس او په سیمه ییزه اجماع کې د ولسمشر ځانگړي استازي محمدعمر داوودزي هم ویلي وو، چې اسلامي جمهوریت د حکومت لپاره سره کرښه ده او اسلامي امارت یې هېڅکله ځای نه شي نیولی. داوودزي دغه راز ویلي وو، چې د امریکایي استازو او طالبانو ترمنځ له مذاکراتو اندېښمن دی؛ ځکه د ده په خبره چې د جزیاتو په اړه یې خبر نه لري. له دې ټولو سره سره، د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند هارون چخانسوري تېره جمعه ازادي راډیو ته ویلي وو، چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد له ولسمشر غني سره په تماس کې دی او د روانو مذاکرو په اړه معلومات ورسره شریکوي.
دا خبرې په داسې حال کې کېږي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو پنځم پړاو له دوو اونیو راهیسې په قطر کې روان دی.
که څه هم د دغو خبرو جزیات تر اوسه رسنیو ته نه دي رسېدلي، خو دواړو لورو ویلي چې دغه خبرې په ښه توگه پر مخ روانې دي او پرمختگ پکې شوی دی.
د راپورونو پر بنسټ، په روانو خبرو کې وسله وال طالبان لا هم له افغان حکومت سره له مخامخ خبرو انکار او له افغانستانه د امریکایي ځواکونو پر وتلو ټینگار کوي.

## چین د افغانستان او پاکستان د اړیکو د ښه کېدو لپاره هڅې پیل کړې دي

په کابل کې د افغانستان، پاکستان او چین سفیرانو پرون ناسته کړې ده. د بهرنیو چارو وزارت وایي، د دې ناستې له ترسره کېدو هدف د کابل او اسلام اباد ترمنځ د باور فضا رامنځته کېدل، د اقتصادي همکاریو پیاوړتیا او له ترهگرۍ سره مبارزه ده او د تېرو ناستو پر توافقاتو پکې ارزونه کېږي.
په کابل کې د چین سفیر وایي، هېواد یې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو د ښه کېدو په لټه کې دی، خو وایي، په افغانستان کې د سولې روان مذاکرات باید د افغانانو په مشرۍ او مالکیت وي.
د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین ادریس زمان وایي، چې د دریو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو له ترهگرۍ سره پر مشترکې مبارزې، د سولې له خبرو ملاتړ او د یادو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو پر پیاوړتیا توافق کړی دی.
نوموړي ویلي: «په افغانستان کې یوې سیاسي حللارې ته له رسېدو سره په سیمه کې ترهگریزې ستونزې پای ته نه رسېږي، د تروریزم د محوې لپاره، د هېوادونو ترمنځ همکاریو ته اړتیا ده، څو د ترهگرو ډلو خلاف له تفکیک پرته مبارزه وشي.»
په کابل کې د چین سفیر لیوجېن سونگ د کابل او اسلام اباد ترمنځ د اړیکو د ښه کېدو په هدف، د خپل هېواد له هڅو ډاډ ورکړی او ویلي یې دي، چې د سولې خبرې باید د افغانانو په مالکیت او رهبرۍ ترسره شي.
نوموړي ویلي: «هیله لرم چې د افغانستان خلک له دې فرصته د سیاسي مصالحې لپاره استفاده وکړي، خپل اختلافونه یوې خوا ته کړي او د سولې مذاکراتو کې ځانونه شامل کړي، موږ له نړیوالې ټولنې غواړو، څو د افغانانو په مالکیت او رهبرۍ د سولې له خبرو ملاتړ وکړي او په دې برخه کې خپل نقش ولوبوي.» په ورته مهال په افغانستان کې د پاکستان سفیر زاهد نصرالله خان د دې درې اړخیزې ناستې ترسره کېدل، د تعهداتو د عملي کېدو او د باور رامنځته کېدو لپاره ښه فرصت گڼې.
نوموړي ویلي: «دا زموږ لپاره یو ښه فرصت دی، څو عملي همکارۍ ولرو. په دې درې اړخیزه ناسته کې به پر ځینو پروژو توافق وکړو مهمه ده، چې پر دې پروژو کار وکړو او د تطبیق لپاره یې میکانېزم رامنځته کړو.» دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان، چین او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو لومړۍ ناسته، تېر کال د چین په بیجېنگ کې وکړه او د دویمې هغې کوربه توب یې کابل وکړ.
له دې سره ټاکل شوې چې روان کال پاکستان د افغانستان، چین او پاکستان د درې اړخیزې ناستې کوربه توب وکړي.

مسير ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۷ د کب ۲۱مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۱۲مه | دویم کال | ۳۴۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱۷ | ۱٦ | ۲۰ | ۲۰ | ۱٦ |
| -۳ | ٤ | ٦ | ۷ | ۷ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤٦ | لمر ختل ۰٦:۱۰ | ماسپښین ۱۲:۰٤ | مازیګر ۰۳:۲٦ | ماښام ۰۵:۵۸ | ماخوستن ۰۷:۲۲

## نړۍ




## بولټن: داعش لا هم د نړۍ امنیت له ګواښ سره مخ کړی دی



د متحده ایالتونو د ملي امنیت سلاکار جان بولټن ویلي، لاهم په عراق او سوریه کې د داعش ګواښ له منځه نه دی تللی.
نوموړي د دغه هېواد له اې بي سي ټلوېزیون سره په خبرو کې د ټرمپ له هغې پرېکړې هم دفاع کړې، چې له مخې به یې له سوریې خپل ځواکونه وباسي.
نوموړي ویلي، له سوریې د ځواکونو ایستلو په تړاو د ولسمشر د اعلان موخه دانه وه، چې ګواکې په عراق او سوریه کې د داعش ګواښ بېخي له منځه تللی، بلکې موخه یې دا وه چې د داعش خلافت له منځه تللی دی.
نوموړي دغه راز ویلي: «مور پوهېږو چې لاهم په سوریه او عراق کې د داعش جنګیالي په پاشلي ډول شته او دغه ډله د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم اوسمهال د ودې په حال کې ده، چې دغه څه د نړۍ امنیت له ګواښ سره مخ کړی دی».
نوموړی دغه خرګندونې په داسې حال کې کوي، چې د امریکا مرستیال ولسمشر تېره میاشت اعلان وکړ، چې د داعش خلافت له ماتې سره مخ شوی دی.
دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ تېر زیږدیز کال اعلان وکړ، چې له سوریې څخه به خپل ټول سرتېري وباسي، خو وروسته یې دغه پرېکړه بدله کړه او ویې ویل چې په دغه هېواد کې به تر څلورو سوو پوځیان پرېږدي.

## وزیر خارجهٔ آلمان: طالبان باید باحکومت افغانستان مذاکره صلح کنند



وزیر خارجهٔ آلمان، ضمن حمایت از تلاش های صلح در افغانستان و تأکید بر حفظ دستاوردهای سال های پسین در روند صلح، گفت که کشورش به کمک های خود با افغانستان ادامه می‌دهد.
هایکو ماس وزیر خارجهٔ آلمان، این سخنان را دیروز در نشست خبری مشترک با صلاح الدین ربانی سرپرست وزارت امور خارجهٔ افغانستان در کابل بیان داشت.
این در حالی است که پنجمین دور گفت‌وگوهای صلح میان تیم های مذاکراتی طالبان و امریکا، امروز وارد پانزدومین روز در قطر شده است.
همچنان حکومت افغانستان نیز هیئت مذاکره کنندهٔ صلح را معرفی کرده؛ اما گفته است که تغییرات در این هیئت وارد می‌شود.
وزیر خارجهٔ آلمان، به انتخابات ریاست جمهوری افغانستان در ماه سرطان سال ۱۳۹۸ و تلاش های صلح برای افغانستان، از سوی ایالات متحده اشاره نموده و گفت که این ها همه برای افغانستان سرنوشت ساز می باشند.
او افزود: «به باور ما باید طالبان مسلح، با همتایان شان یعنی حکومت افغانستان، مذاکره کنند، به باور ما باید دستاورد هایی که در این کشور در چند سال گذشته به دست آمده، حفظ شوند و همچنان در این روند نظریات مردم به ویژه زنان در نظر گرفته شود».
وی اظهار امیدواری کرد که تلاش های صلح در افغانسان، نتایج خوب در پی داشته باشد و هرچه زودتر صلح در افغانستان تأمین شود.
او گفت که هنوزهم نیروهای امنیتی افغان، به کمک نیاز دارند و کشورش به کمک های خود در این بخش ادامه می‌دهد.
موصوف افزود: «برای اینکه پیشرفت ها در افغانستان تقویه شود، آلمان در آینده نیز به تعهدات خود با افغانستان پابند خواهد بود».

## راپورونه: د هند پارلماني ټاکنې به د ۹۰۰ میلیونو کسانو په ګډون، په اوو پړاوونو کې وشي



په داسې حال کې چې پر پاکستان له برید وروسته، د هند د لومړي وزیر نرېندرا مودي محبوبیت په خپل هېواد کې څه ناڅه زیات شوی، هغه بیا هم هیله لري چې ګوند یې پارلماني ټاکنې وګټي.
د هند د ټاکنو کمېسیون اعلان کړی چې د دغه هېواد پارلماني ټاکنې، چې د نړۍ ستره ډیموکراسي ګڼل کېږي، د اپرېل په ۱۱مه پیل او په اوو پړاوونو کې به وشي.
د هند د ټاکنو کمېسیون رییس سونیل اورا، ویلي چې په دغو ټاکنو کې شاوخوا ۹۰۰ میلیونه هندیان دي، چې د رایې ورکولو حق لري او دوی ټول به برخه اخلي.
د دغه هېواد په پارلماني ټاکنو کې د دغو رای ورکوونکو له ډلې ۱۵ میلیونه یې د ۱۸ او ۱۹ کلونو ترمنځ عمرونه لري.
په دغو ټاکنو کې چې د پارلمان لپاره پکې ۵۴۳ څوکیو ته کاندیدان سره سیالي کوي، د رای ورکوونکو د شمېر له نظره د نړۍ په کچه تر ټولو سترې ټاکنې ګڼل کېږي او څه د پاسه یوه میاشت وخت نیسي.
د نظرپوښتنو نتیجې ښیي چې واکمن ملتپاله ګوند «بهارتیا جناتا» به وکړای شي د ۲۴۱ څوکیو په ترلاسه کولو په پارلمان کې اکثریت ترلاسه کړي.
دا په داسې حال کې ده چې پر پاکستان باندې د هند د هوایي بریدونو د مخه، د هند د صدراعظم او د بهارتا جناتا ګوند د مشر نرېندرا مودي د محبوبیت کچې ته سخت تاوان رسېدلی و.
خو له دغو بریدونو وروسته د مودي او د هغه د ګوند ملاتړي زیات شوي چې کېدای شي په راتلونکو ټاکنو کې یې په ګټه تمام شي.

## ژوند

## د پالک شیره له ډنګروالي سره مرسته کوي؟



د پالک جوس یا شیره هغه څه ده، چې نن سبا یې روغتیاپالان د ډنګروالي لپاره سپارښتنه کوي، خو ایا په رښتیا هم د پالک جوس له ډنګروالي سره مرسته کوي؟ او که کوي یې څه ډول؟
هغه کسان چې غواړي وزن کم کړي، هغه د چا خبره لکه اوبو وړی هر ځک ته لاس اچوي. دوی له اسانو لارو نیولې تر ډېرو سختو هغو یې تجربه کړې دي. چې له بده مرغه له ډېر کړاو وروسته بیا هم نه شي کولی خپل وزن کم کړي. روغتیاپالانو په دې وروستیو کې د پالک جوس، د ډنګروالي لپاره تر ټولو ښه او ارزانه خواړه بللي دي.
دوی وایي، د پالکو شیره اشتها کموي چې د وخت په تېرېدو سره انسان خپل وزن بایلي. اوس تازه د پالک د شیرې کپسولونه هم په بازار کې پیدا کېږي، چې د ډاکټرانو په خبره، کوم جانبي عوارض هم نه لري او د وزن له کموالي سره پوره پوره مرسته کوي. دوی وایي، په دې شیره کې۷۰ سلنه تیلاکوییډ موجود دي. دغه ماده له پروټینو او انټي اکسایډونو جوړه شوې ده، چې پاتې ۳۰ سلنه یې غوړ تشکیلوي او د زړ مرښت لامل کېږي.

## هواوې نوي کش کېدونکي موبایلونه جوړوي




د معلوماتو له مخې، د ټکنالوژۍ مشهور چینایي شرکت هواوې غواړي چې په نږدې راتلونکي کې ځیرک کش کېدونکي موبایلونه خپلو پېرودونکو ته وړاندې کړي. داسې ویل کېږي، چې دغه موبایلونه به خورا ښه کیفیت ولري، چې په مخ او شا دواړو کې به ټولې څلور کامرې ولري. له دې وړاندې شیامي شرکت دوه ډوله مې مېکس ۳ او آنرمیجیک ۲ کش کېدونکي موبایلونه بازار ته وړاندې کړي وو. اوس تازه هواوې شرکت هم په دې اړه فکر کړی، چې ډېر ژر دغه نوی تولید تر خپلو پېرودونکو پورې ورسوي. کلونه مخکې له اپل شرکت پرته د موبایل جوړولو شرکتونو، لکه سامسونګ، ایل جي او دې ته ورته نورو کش کېدونکي موبایلونه تولیدول، خو هغه وخت چې ټکنالوژي دومره پر مختللې نه وه، نو د ډېرو شیانو کارولو امکان پکې نه و، خو اوس دغه شرکتونه هڅه کوي، چې په هر ډول نوو تولیدوونکو موبایلونو او یا نورو دې ته ورته توکو کې، له نوي ټکنالوژۍ سره ترلې ټول امکانات ولري او یو داسې څه بازار ته وړاندې کړي، چې په یو ډول نه یو ډول له خپلو سیالانو مخکې شي.
هواوې شرکت له دې وړاندې ویلي وو، چې غواړي په روانه مارچ میاشت کې خپل نوی تولید P30 بازار ته وړاندې کړي.